# د 2024 کال د اوړي د نژادي برابرۍ د فنډ د مرستي فرصت
# ډېرى پوښتل شوې پوښتنې

**د نژادي برابرۍ اړوند فنډ څه شي دی او ولې شتون لري؟**

دا د دې لپاره تاسیس شوی چې نژادي توپیرونه د ټولو اوسېدونکو لپاره د ټولنیز او اقتصادي فرصت او روغتیا او هوساینې ترلاسه کولو لپاره ترټولو لوی خنډ دی. د نژادي بې عدالتۍ پر وړاندې د مبارزې له مخې، موږ د الکسندریا ښار د ټولو اوسېدونکو لپاره له دې ښار څخه یو غوره ځای جوړوو. د نژادي برابرۍ د فنډ د هغې موخې په پام کې نیولو سره رامنځته شوی او د هغو هڅو ملاتړ ته ځانګړی شوی چې د سیستماتیکه نژاد پالنه له منځه وړي او د الکسندریا په ښار کې نژادي برابرۍ ته وده ورکوي. د نژادي برابرۍ د مرستې فنډ د ټولنې د مشورتي بورډ له لوري هدایت کیږي.

**نژادي نابرابري څه شی ده؟**

نژادي نابرابري هغه وخت شتون لري کله چې د یو شخص نژادي هویت د دوی د ژوند د پایلو وړاندوینه کوي. نژادي نابرابرۍ په هغو ټولنیزو، کلتوري، سیاسي او تاریخي شرایطو کې منعکس کیږي چې د نژادي ډلو په اوږدو کې بیلابېلې پایلې رامنځته کوي. نژادي نابرابرۍ په ښوونه او روزنه کې د غیر متناسبې (له عالي لېسې څخه د فراغت د کچې)، دندې (د بېکارۍ د کچې)، جنایي عدالت (د نیول کېدو او بندي کېدو د کچې)، د ژوندانه د توقعاتو، او د بریالیتوب هر بل شاخص له مخې څرګندیږي. د نژادي او ټولنیزې برابرۍ اړوند [د نورو تعریفونو لپاره له لاندې لېنک څخه کار واخلئ*](https://www.alexandriava.gov/equity/race-and-social-equity-definitions).

**سیستماتیکه نژاد پرستي څه شی ده؟**

دا د انفرادي، اداري او جوړښتي کچو تر منځ یوه ارتباطي او متقابله اړیکه ده چې د نژاد پرستۍ د سیستم په توګه کار کوي. د نژاد پرستۍ اړوند یادې بېلابېلې کچې د تجربې پر اساس د امتیازاتو د ترلاسه کولو په سیستم کې یوځای کار کوي او د بشپړ سیستم په توګه یوځای فعالیت کوي. دغه کچې عبارت دي له:

- انفرادي (د خلکو ترمنځ په متقابلو اړیکو کې)
- اداري (په بنسټونو او د چارو د واګې په سیستمونو کې)
- جوړښتي یا ټولنیزې (په بنسټونو او په ټوله ټولنه کې)

*https://www.alexandriava.gov/equity/race-and-social-equity-definitions

**د مالي مرستي د ترلاسه کولو دغه فرصت**

د دغو مرستو موخه څه شی ده؟

دغه مرستي د الکسندریا په ښار کې د نژادي برابرۍ د پرمختګونو، د ماشومانو د هوسایني، ښووني او روزني، روغتیا او کور جوړولو په برخو کې لاسته راوړنو ته د ځانګړې پاملرني څخه ملاتړ کول دي.

د دغې مالي تمویل لومړیتوبونه څه دي؟

د ټولني مشورتي بورډ به د مرستي د تاکید په ساحو کې شته اغېزو ته لومړیتوب ورکړي، هغه هڅې چې د بسپني د ورکولو د فعالیتونو په ترسره کولو کې په برابرۍ متمرکزې وي، او هغه هڅې چې د هغو کسانو لپاره اداره رامنځته کړي چې د جوړښتي نژاد پرستی له امله اغېزمن شوي وي.

کوم ډول برنامې د اړوند مرستو له لارې تمویل کیږي؟

دا مرستې د نژادي برابرۍ لپاره د ACT د فنډ له لارې چمتو کیږي چې د استوګنځي، ښووني او روزني، روغتیا یا د ماشومانو هوساینې په برخو کې په مساوي لاسته راوړنو تمرکز کوي. ټولې هغه برنامې چې په دې سیمو اغېزه کوي د دې مرستو لپاره په پام کې نیول کېدلی شي.

څوک کولی شي د دغو مرستو غوښتنه وکړي؟

اوسېدونکي افراد او غیر انتفاعي ادارې یې د تمویل لپاره د غوښتنلیکونو د سپارلو وړ دي. افرادو ته اجازه ورکول کیږي چې د دوی د نژادي هویت په پام کې نیولو پرته د تمویل لپاره غوښتنه وکړي او تاسو اړتیا نه لرئ چې خامخا دې د الکسندریا د ښار اوسېدونکي یاست. موږ له 16 کالو یا له دې د زیات عمر لرونکو کسانو د غوښتنلیکونو د سپارلو په موخه ښه راغلاست وایو، په هر حال، له 18 کلونو څخه کم عمر لرونکي به د خپلو والدینو اجازې ته اړتیا ولري.

د مرستې د ګټلو د پرېکړو لپاره یې مهالویش څه ډول دی؟

د مرستې د ګټلو پرېکړې د سپتمبر 2024 په وروستیو نیول کیږي.

د مرستې ترټولو لوړه اندازه او د مرستې موده څومره ده؟

د مرستې ترټولو لوړه اندازه 2,000 امریکایي ډالر دي. د مرستې موده به د مرستې د ترلاسه کولو له نېټې څخه نیولې تر یو کال پورې وي.

ایا د مرستې دغه فنډونه د مالیې وړ عایدات ګڼل کیږي؟

هو، د دغو مرستو ګټل د مالیې وړ عایدات ګڼل کیږي. د مرستې د ګټلو اندازه به د ACT له لوري د ټولنې د بنسټ په توګه د الکساندریا ښار د منلو وړ لګښتونو لاندې راځي.

*ایا زه باید هغه رسیدونه ښکاره کړم ترڅو په ډاګه کړم چې ما څنګه اړوند پیسې مصرف کړې دي؟*

نه، رسیدونو ته اړتیا نشته. د الکساندریا لپاره د ACT کاري ډله او د نژادي برابرۍ د فنډ اړوند د ټولنې مشورتي بورډ غړي به له تاسو سره کار وکړي ترڅو معلومه کړي چې ستاسو هڅې (بریالیتوبونه او نور) څنګه ارزول کیږي.

**د اړوند مرستې لپاره د غوښتنلیک سپارل**

څرنګه کولی شم غوښتنلیک ورکړم؟

د الکسندریا د نژادي برابرۍ د فنډ لپاره د ACT له وېب پاڼې** څخه لیدنه وکړئ ترڅو د خپلې خوښې وړ ژبه کې د غوښتلیک سپارلو ته لاسرسی پیداکړئ. فزیکي یا کاغذي غوښتنلیکونه د ACT لپاره د الکساندریا په دفتر (په ALX Community Waterfront Building, 201 N. Union St. Suite 110, Alexandria, Virginia 22314) کې هم د عادي رسمي ساعتونو په اوږدو (د سهار له 9 بجو څخه تر مازدیګر 5 بجو، له دوشنبې تر جمعې ورځې پورې) اخېستل کېدلی شي. غوښتنلیکونه ستاسو د خوښې وړ ژبه کې د کمپیوټر په واسطه ټایپ یا په لاس لیکل کېدلی شي او په برېښنایي یا چاپي ډول به په لاندې ډول د منلو وړ وي:

- په برېښنایي بڼه: له وېب پاڼې څخه اړونده غوښتنلیک راښکته او ثبت کړئ. یوځل چې تاسو یاد غوښتنلیک بشپړ او لاسلیک کړئ ، هغه grants@actforalexandria.org برېښنالیک ته ولیږئ. مهرباني وکړئ ډاډ ترلاسه کړئ چې ورکړل شوي معلومات مو وخت پر وخت ثبت کوئ.
- فزیکي یا کاغذي غوښتنلیکونه: د فزیکي یا کاغذي غوښتنلیکونه د ACT اړوند د الکساندریا دفترونو ته په (201 N. Union St., Suite 110, Alexandria, Virginia 22314) پته د پوستي صندوق له لارې لیږل کېدلی یا د عادي رسمي ساعتونو (د سهار له 9 څخه تر مازدیګر 5 بجو، له دوشنبې تر جمعې ورځې پورې) سپارل کېدلی شي.

برسېره پر دې، د حضوري غوښتنلیک ملاتړ د الکسندریا لپاره د ACT په دفترونو کې په (201 N. Union St., Suite 110, Alexandria, Virginia 22314) پته د ماسپښین له 3:00 تر مازدیګر 5:00 بجو پورې د جولای له 29مې تر اګست 2 مې، د اګست له 13 مې تر 16 مې، او د اګست له 20 مې تر 21 مې پورې شتون لري. ژبې ته د لاسرسي ملاتړي خدمات شتون لري.

***غوښتنلیکونه باید د اګست تر 22مې، 2024 د مازدیګر تر 5:00 بجو پورې وسپارل شي.***

زه له چا سره خبرې وکړم که چېرې د غوښتنلیک د ډکولو په اړه کومه پوښتنه ولرم یا هم مرستې ته اړتیا ولرم؟
که چېرې د اړونده غوښتنلیک په اړه پوښتنې لرئ نو کولی شئ دې سند ته مراجعه وکړئ، د نژادي برابرۍ اړوند فنډ په وېب پاڼه کې معلوماتي سوابق وګورئ، یا د الکسندریا لپاره د ACT له دفتر سره په grants@actforalexandria.org برېښنالیک یا 703-739-7778 شمېره اړیکه ونیسئ. د دفتر رسمي ساعتونه به د نژادي برابرۍ لپاره د فنډونو په وېب پاڼه باندې نشر کیږي او د ژبې اړوند ملاتړي خدمات به هم شتون ولري.

ایا زه کولی شم د څو پروژو لپاره غوښتنلیک وسپارم؟
نه، موږ د هر فرد یا غیر انتفاعي ادارې لپاره یوازې یو غوښتنلیک منلی شو.

ایا له یوې ادارې څخه څو کسان غوښتنلیکونه سپارلی شي؟
هو، له یوې ادارې څخه ګڼ شمېر کسان کولی شي د یو فرد په توګه غوښتنلیک وسپاري، خو په هر حال، دوی باید د بېلابېلو پروژو لپاره غوښتنلکونه وسپاري.

**https://www.actforalexandria.org/initiatives/t/fund-for-racial-equity/

ACT for ALEXANDRIA
A COMMUNITY FOUNDATION
Fund for Racial Equity